اوونیزه
اباډي
هفته نامه آبادي

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ګڼه: ۳۹ | مسلسل نمبر: ۱۲۹ | چهارشنبه، د رجب المرجب ۱۰مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال




## د کابل ولایت مقام مخې ته د هوايي پُل د جوړېدو چارې پیل شوې



۲ صفحه

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ایران د ریل پټلۍ د رئیس په مشرۍ پلاوي سره وکتل



۲مه صفحه

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د برېښنا یو شمېر لویو پروژو چارې پیل او ځینې یې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



۳مه صفحه




بریښنا د بشر په پرمختګ او د یوه هېواد د اقتصاد په پیاوړتیا کې مهم ارزښت لري. بریښنا په ژوندانه او صنعتي فعالیتونو کې تر ټولو زیات رول لوبولی دی. افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د بریښنا د تولید له پاره پراخې سرچینې لري. په نړۍ کې د بریښنا د تولید له پاره په لومړۍ درجه کې اوبه او ور پسې د ډېرو سکاره، یورانیم، تیل او ګاز دي. له بېلا بېلو سرچینو څخه د بریښنا د تولید په اړه ترسره شویو څېړنو دا په ډاګه کړې چې افغانستان کولای شي له اوبو، لمر، باد او ګازو څخه لسګونه زره میګاواټه بریښنا تولید کړي. د بریښنا اهمیت او په افغانستان کې د هغه د تولیدي سرچینو موجودیت ته په کتو اسلامي امارت هڅه کوي چې په کور د ننه د شته سرچینو څخه بریښنا تولید او د بریښنا له پاره زیربناوې جوړې کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د جدي میاشتې په څلورمه په هرات ولایت کې د ۳,۹۸ میلیارده افغانیو په لګښت د بریښنا ۹ لویو پروژو څخه د څلورو یې چارې پیل او پنځه نورې یې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. په بشپړو شویو پروژو کې له ترکمنستان څخه د ۱۳۰ کیلومترو په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلوولټ لین غځول، د هرات په څلورو ولسوالیو کې د څلورو سب‌سټېشنونو جوړول شامل دي او د سبسټیشنونو څلورو پروژو چارې بیا پیل شوې. دا د افغانستان د صنعتي ودې او په ټوله کې اقتصادي پرمختګ په برخه کې یو ستر ګام دی. د دې پروژو پر مټ به د هرات ولایت صنعتي پارکونو ته بریښنا برابره، ډېرې استوګنیزې سیمې او سوداګریز مرکزونه به له بریښنا برخمن شي. په دې سره به په هرات کې صنعت وده وکړي، د صادراتو کچه به لوړه او په ټوله کې به اقتصادي وده رامنځته شي. د دې پروژو د پرانیستې په مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پرمهال یوې بلې مهم مسلې ته هم اشاره وکړه او ویې ویل کوم پانګوال چې د سړو خونو جوړولو په برخه کې پانګونه وکړي، هغوی ته به پنځه کلن مالیات معاف او د اړوندو ادارو له لوري به بریښنا ورته چمتو شي. دا د افغانستان د کرنې سکتور او کرنیزو محصولاتو د خوندي ساتلو په برخه کې یو بل مهم ګام دی. د کرنیزو محصولاتو په ځانګړې ډول د میوه‌جاتو او سبزیجاتو د ساتنې له پاره سړې خونې زیات اهمیت لري. که چېرې موږ سړې خونې ولرو، نو به وکولای شو چې خپل کرنیز محصولات وساتو او بیا یې په ښه بیه په کور دننه او د سیمې په ګډون نړیوالو بازارونو ته وراندې کړو. په دې سره به له یوه لوري د کرنې سکتور پرمختګ وکړي او له بل لوري به زموږ د بزګرانو اقتصادي وضعیت او په ټوله کې به اقتصادي وده چټکه شي. په لنډ ډول ویلای شو چې اسلامي امارت ټولو هغو برخو او زیربناوو ته پاملرنه کړې چې پر مټ یې د افغانستان د صنعت په ګډون، د کرنې، سوداګرۍ او دې ته ورته نورو سکتورونه پرمختګ کولای شي. که چېرې په همدې ډول ستري پروژې او د زیربناوو رغول روان وي، ډېر ژر به افغانستان د صنعتي او پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودرېږي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه آبادي
هفته‌نامه آبادی


## د کابل ولایت مقام مخې ته د هوایي پُل د جوړېدو چارې پیل شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د مرغومي میاشتې په نهمه نېټه د کابل ولایت مقام مخې ته د موټرو د تګ راتګ لپاره د هوایي پُل د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د نفوس زیاتوالي، د اقتصادي فعالیتونو حجم او د کابل ښار اوسني وضعیت



ته په کتو ښاري پراختیا، ترانسپورټي زېربنا او ښاري نظم اساسي اړتیا وبلله او ویې ویل، کابل ښار باید په معاصره توګه د یو منظم ښـاري پلان له مخې پراختیا ومومي. محترم ملا صاحـب زیاته کړه، له نېکـه مرغه کابل ښـاروالی د همدې اړتیا په درک کولو سره په بې ساري توګه د کابل ښار د ترانسپورټي او ښاري نظم په برخه کې د پام وړ کارونه ترسره کړي، چې د سـتاینې او قدر وړ دي. د ریاسـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال همداراز له کابل ښاریانو وغوښتل څو د ښار په پاکوالي او نظم کې خپل مسوولیت ادا او د زېربنایي پروژو په برخه کې پوره همکاري وکړي. په پای کې محترم ملا صاحب د دې پروژې له انجنیرانو وغوښتل چې د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره یې چارې په ښه ډول بشپړې کړي. دغه هوایـي پُل ۲۳۵ متره اوږدوالی، ۱۸ متره سـور او ۶,۸ متره لوړوالی لري چې ۴۶۲ میلیون افغانی لګښت پرې راځي او چارې به یې په ۱۵ میاشتو کې بشپړې شي.

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ایران د ریل پټلۍ د رئیس په مشرۍ پلاوي سره وکتل

د ریاسـت الوزراء اقتصـادي مرسـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د مرغومي میاشتې په اتمه نېټه د ایران اسلامي جمهوریت د ریل پټلـۍ اداري د رییس جبار عـلي ذاکري په مشرۍ له راغلي پلاوي سره په مرمرینه ماڼۍ کې په داسې حال کې وکتل چې په کابل کې د ایران سفیر هم حاضر و.



په دې لیدنه کې دواړو لورو د افغانستان او ایران ترمنځ پر اقتصادي اړیکو، سوداګرۍ او د ریل پټلۍ د پراختیا په برخه کې د همکارۍ پــه اړه خبرې وکړې. د ایران اسلامي جمهوریت د ریل پټلۍ رییس جبار علي ذاکري وویل، غواړي د افغانسـتان لــه لارې د ریل پټلۍ ته پراختیا ورکــړي، څو له دې لارې لــه چین او چین د افغانستان له ستراتیژیک موقعیت څخه په استفادې له اروپا سره وصل شي. هغه وړاندیز وکړ چې په دې برخه کې دې یوه ګډه کمیټه جوړه شي او له شرکتونو سره دې خبرې وشي. وروسـې د ریاسـت الـوزراء اقتصادي مرسـتیال وویل چې د دې پروژې د ارزښت په اړه یې درې کاله مخکې د ایران اسلامي جمهوریت د ولسمشر له مرسـتیال سره خبرې کــړې وې او د دې پروژې د اقتصادي ارزښت په اړه یې معلومات ورکړي و. د ریاست الوزراء اقتصادي مرسـتیال زیاته کړه چې په دې برخه کې دې مشترکه کمیټه جوړه او هر څومره ژر چې کیږي عملي کار دې پیل شي.

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري د برېښنا يو شمېر لويو پروژو چارېږ پيل او ځينې يې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د جدي مياشتې په څلورمه نېټه په هرات ولايت کې د ۳,۹۸ ميلیارده افغانيو په ارزښت د برېښنا ۹ لويو پروژو څخه دڅلورو يې چارې پيل او پنځه نورې يې ګټې اخيستې ته وسپارل شوې. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال دغه پروژې د افغانستان د صنعتي او اقتصادي ودې لپاره مهمې وبللې او ويې ويل، چې د يادو پروژو پر مټ به د هرات ولايت ټولو صنعتي پارکونو ته ۲۴ ساعته برېښنا برابره، سوداګريز مرکزونه، کليوالي سيمې او استوګنيز مرکزونه به له برېښنا برخمن او په کور دننه به د باثباته برېښنا خاوندان شو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند همدا ډول ټولو هغو پانګوالو ته چې د سړو خونو جوړولو په برخه کې پانګونه کوي، زيرى ورکړ چې له يوې خوا به ورته پنځه کلن ماليات معاف کړي او پر ورته وخت کې به د افغانستان برېښنا شرکت په هر ډول حالاتو کې دوی ته دايمي برېښنا هم ورسوي. هغه له ټولو کورنيو او بهرنيو پانګوالو وغوښتل چې له دې فرصت څخه استفاده وکړي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال همدارنګه له ټولو هېوادونو وغوښتل چې له افغانستان سره د محدودونکو سياستونو پر ځای تعاملي سياستونه غوره او د دغه هېواد ننني امنيتي ثبات ته د يو مهم فرصت په سترګه وګوري. محترم ملا صاحب زياته کړه، نړيوال دې له اسلامي امارت څخه پر ارزښتونو د تعامل کولو تمې نه کوي. د هغه په خبره، اسلامي امارت له ټولو هېوادونو سره متوازن سياست غوره کړی او ټول تمرکز يې د افغانستان پر اقتصادي وده، امنيتي ثبات او غوره حکومتولی دی. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قراردادي شرکتونو له مسوولينو او تخنيکي ټيمونو څخه وغوښتل چې د نويو پيل شويو پروژو چارې په پوره کيفيت او ټاکلي وخت بشپړې کړي. د يادونې وړ ده چې له ترکمنستان څخه د ۱۳۰ کيلومتره په اوږدوالي د ۲۲۰ کيلوولټه لين غځول او په کرخ، پشتون زرغون، اوبې او چشت شريف ولسواليو کې د څلورو سبسټېشنونو جوړول هغه پروژې دي چې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې. د يادو پروژو له لارې ۴۰ زره کورنيو ته برېښنا رسول کېږي. همدارنګه په نويو پيل شوو پروژو کې د پُل هاشمي سبسټېشن جوړول، د ۲۴ حوت شهيدانو سبسټېشن پراختيا، د نورالجهاد سبسټېشن د (ب) لين ايجاد او همداراز د پُل هاشمي، نورالجهاد او د ۲۴ حوت شهيدانو سبسټېشنونو ترمنځ د برېښنا انتقالي لين غځول شامل دي.

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال هرات ولايت کې څلور سب سټېشنونه ګټې اخيستنې ته وسپارل

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴لمريز کال د جدي په څلورمه نېټه د هرات ولايت په کرخ، پشتون زرغون، اوبې او چشت شريف ولسواليو کې څلور سب سټېشنونه ګټې اخيستنې ته وسپارل شول. د يادو سب سټېشنونو په واسطه ۴۰ زره کورنۍ له برېښنا برخمنې شوې.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هرات ولايت کې د پامير المونيمي قطيو توليدي شرکت د بنسټ ډبره کېښوده

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د جدي مياشتې په څلورمه نېټه د هرات ولايت په صنعتي پارکونو کې د پامير المونيمي قطيو توليدي شرکت د بنسټ ډبره کېښوده. دا په افغانستان کې د المونيمي قطيو د توليد لومړنی شرکت دی، چې ۱۲۰ ميليونه ډالر پانګونه پکې کېږي. دغه شرکت په ۱۶ جريبه ځمکه جوړېږي او ۱۷۰۰ هېوادوالو ته به کاري فرصتونه برابر کړي.

# اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

## تداوم گفت‌وگوهای تخنیکی کابل و آســـتانه درباره پروژه‌ی خط آهن

پس از سفر هیئت بلندپایه‌ی قزاقستان به افغانستان و امضای تفاهم‌نامه‌ی ۵۰۰ میلیون دالری برای سرمایه‌گذاری در پروژه های هرات–تورغنـــدی و هرات–قندهار، وزارت فواید عامه می گوید که نشســـت‌های تخنیکی میان هیئت‌های کابل و آستانه برای ترتیـــب قرارداد چارچوبی و آغـــاز کار عملی این پروژه‌ها ادامه دارد. به‌گفته‌ی ایـــن وزارت، اجرای این پروژه‌ها نه‌تنها برای افغانســـتان و قزاقستان، بلکه برای کشورهای منطقه نیز فرصت مهمی فراهم می‌کند. مســـؤلین وزارت فواید عامه، در این بـــاره افزود: «ایـــن پروژه‌هـــا نه‌تنها برای افغانســـتان و قزاقستان، بلکه برای تمامی کشورهای منطقه فرصت مهمی به شـــمار می‌رود؛ زیرا کشـــورهای منطقه می‌توانند از این دهلیز ترانزیتی استفاده کرده و اموال تجارتی خود را با سرعت بیش‌تر و هزینـــه‌ی کم‌تر انتقال دهنـــد.» وزارت فواید عامه هم‌چنین تاکید دارد که توســـعه‌ی خطوط آهن در افغانستان از اهداف اصلی این وزارت اســـت و برای تحقق این هدف، نشست‌های داخلی و جهانی به‌منظور جلب سرمایه‌گذاری برگزار شده است. در حال حاضر، کار بازســـازی خط‌آهن بنـــدر آقینه–اندخوی به طول ۱۰ کیلومتر، توســـعه‌ی بندر تورغندی، احداث ساختمان قطعه چهارم خط آهن هرات–خواف در دو فاز، ترمیم خط آهن هرات–مزارشریف و هم‌چنان سروی و دیزاین تفصیلی خط آهن هرات–قندهار جریان دارد. وزارت فواید عامه هم‌چنین تصریح کرد: «به‌منظور تحقق اهداف کشور در بخش اجرای پروژه‌های زیربنایی و اتصال افغانستان با کشورهای منطقه، وزارت فواید عامه نشست‌های داخلی و بین‌المللی متعددی را در بخش خط آهن برای جلب سرمایه‌گذاری برگزار کرده اســـت.» در همین حال، شماری از آگاهان اقتصادی سرمایه‌گذاری‌های خارجی، به‌ویژه از سوی قزاقستان، را در بخش خطوط آهن برای انتقال سریع و کم‌هزینه‌ی کالاها مهم می‌دانند و پافشـــاری دارند که باید زمینه‌هـــای بیش‌تری برای جـــذب سرمایه‌گذاری در این بخش فراهم شـــود. عبدالشکور هدەوال، آگاه امور اقتصادی، در این باره گفت: «امارت اسلامی باید نه‌تنها در سطح داخلی، بلکه میان کشـــورها نیز روابط از طریق خط آهن داشته باشد تا کالاهای افغانســـتان از این مسیر به کشورهای دیگر به‌گونه‌ی گســـترده صادر شود.» این در حالی‌ست که روز گذشته، رسانه های روســـی به نقل از الیکســـی اورچوک، معاون نخست‌وزیر روسیه، گزارش داده‌اند که این کشـــور علاقه‌مندی زیادی به ســـاخت راه‌آهن از مسیر افغانســـتان دارد و گفت‌وگوها در این زمینه آغاز شده است.

## بســـته‌بودن گذرگاه تورخم تأثیری بر بازار سبزیجات ننگرهار نداشته است

نزدیک به ســـه ماه می‌گذرد که گذرگاه تورخم بسته شده؛ اما این موضوع هیچ‌گونه تأثیر منفی بر بازار سبزیجات در ننگرهار نداشته است. مسؤلان محلی ننگرهار می‌گویند که در مقایسه با سال‌های گذشته، تغییر قابل توجهی در قیمت سبزیجات در این ولایت به وجود نیامده و ننگرهار در این بخش نســـبت به گذشته به خودبسندگی رســـیده است. آنان می‌افزایند که برای نگهداری ســـبزیجات، چندین سردخانه در ننگرهار ساخته شده که ظرفیت نگهداری نزدیک به چهار هزار تُن ســـبزی را دارد. معاون اتحادیـــه میوه‌های تازه و ســـبزیجات ننگرهار، گفت: «بسته شدن مســـیر تورخم هیچ تأثیری بر میوه‌ها و سبزیجات نداشـــته اســـت. حتی اگر این مسیر بســـته بماند، هیچ گونه مشـــکلی ایجاد نمی‌شود. اکنون ما در این بخش به خودکفایی رسیده‌ایم. در ننگرهار به‌اندازه‌ای میوه و سبزی تولید شده که همین حالا به بســـیاری از ولایت‌های کشـــور صادر می‌کنیم. پیازها پیش از این بارگیری شـــده بودند تا به پاکســـتان صادر شوند، اما پس از بسته شدن مسیر، دوباره آن‌ها را به بازارهای داخلی فرســـتادیم.» در مقایسه با ســـال‌های گذشته، امسال ســـبزیجات در ننگرهـــار افزایش یافته و به‌جای پاکســـتان به ولایت‌های دیگر کشـــور انتقال داده می‌شـــود؛ با این حال، تاجران خواهان ســـاخت سردخانه‌های بیشتر برای نگهداری ســـبزیجات در این ولایت هســـتند. جمرود، یکی از تاجران، گفت: «در گذشـــته به پاکستان تکیه داشـــتیم، اما اکنون که مسیر پاکستان بسته شده، ســـبزیجاتی را که در ننگرهار تولید شـــده‌اند، به ولایت‌های دیگر فرســـتادیم. درخواســـت ما از حکومت این اســـت که زمینه صادرات سبزیجات به کشورهای دیگر را برای ما فراهم سازد.» مسؤلان ریاست زراعت، آبیاری و مالـــداری ننگرهار می‌گویند که با همکاری بخش خصوصی، چندین سردخانه در این ولایت ســـاخته شده است و به دستور رهبر امارت اســـلامی، در آیندۀ نزدیک، کار ساخت سردخانه‌ها در هزار جریب زمین نیز آغاز خواهد شد. ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ننگرهار، گفـــت: «در بخش نگهداری، با همکاری ســـکتور خصوصی، سردخانه‌هایی ســـاخته شده‌اند که ظرفیت نگهداری سه‌هزار و نیم تا چهار هزار تُن محصولات را دارند. ما تلاش داریم که در این بخش بیشتر کار کنیم. همچنین، یک سردخانه با ظرفیت پنج‌هزار متریک تُن نیمه‌کاره باقی مانده که آن را نیز تکمیل خواهیم کرد.» پس از بســـته شـــدن مسیر با پاکســـتان، محترم ملا عبدالغنی برادر آخنـــد معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، از تاجران خواسته که در ساخت سردخانه‌ها در داخل کشور سرمایه‌گذاری کنند. بر پایه هدایت او، سازندگان سردخانه‌ها تا پنج سال از پرداخت مالیه معاف خواهند بود و به شرکت برشنا نیز دستور داده شده است که برق ۲۴ ساعته برای سردخانه‌ها فراهم کند.

## هرات کې د غالیو فابریکې د کورني بازار ۴۵ سلنه اړتیا پوره کوي

د هرات د کانونـــو او صنعت خونې ويلي، چې په دې ولايت کې د غالیو او فرشـــونو د تولید شل فابريکې فعالیت کوي او د لـــوړ کیفیت لرونکو فرشـــونو او ماشـــيني غاليو له لارې د افغانســـتان نږدې نيمايي کورنی بازار تمویلوي. د دغه خونې د معلوماتو له مخې، دا مهال په دغه ولايت کې شل توليدي فابريکې د فرشونو او ماشيني غاليو په توليد بوختې دي، چې د هېـــواد د کورني بازار شـــاوخوا ۴۵ ســـلنه اړتیا پوره کوي. يادې خونې ويلي، چې د هرات توليدي غالۍ او فرشـــونه د کيفيت له پلوه د وارداتي توکو سره ســـيالي کوي او د هېواد پـــه بېلابېلو ولايتونو کې بازار لـــري. د دوی په وینا، د دغو فابريکـــو فعاليت نه يـــوازې د کورني توليد د پياوړتيا ســـبب شـــوی، بلکې د سلګونو کسانو لپاره يې د کار زمينه هم برابره کړې ده.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباديٓ اوونيزه
هفته نامه آبادی



## غزني کې په ۲۰۰ جريبه ځمکه د باروړونکو موټرو لپاره تم ځای جوړېږي

د غزني ولايت د ټرانسپورټ رياست مسوولينو خبر ورکړی، چې د کابل ـ کندهار عمومي سړک په اوږدو کې، د غزني ښار په دشت تلخک زار سيمه کې، د باروړونکو موټرو لپاره پر ۲۰۰ جريبه ځمکه د تم ځای د جوړېدو چارې پيل شوې دي. د ياد رياست مسوولينو رسنيو ته ويلي، چې د يادې پروژې چارې د ټرانسپورټ وزارت له بوديجې څخه د ۳۴ ميليون افغانيو په لګښت پيل شوې چې چارې به يې په يوه کال کې بشپړې شي.



# له هراته تر واخانه

## د افغانستان له لارې د چين - ايران د نښلون ستراتيژيک نوښت او اقتصادي فرصتونه

زاهد خليلي

ځينو ايراني او افغان رسنيو د ايران د ريل پټلۍ د يو لوړ پوړي چارواکي جبار علي ذاکري له قوله ليکلي چې هغه د افغانستان له لارې د ايران او چين ترمنځ د يوې نوې تېرېدونکې ريل پټلۍ په اړه څرګندونې کړې دي. د رسنيو راپورونو کې ويل شوي چې ايران غواړي د افغانستان له هرات ولايته تر بلخ ولايت پورې او بيا له هغه ځايه د بدخشان تر واخانه پورې يوه نوې ريل پټلۍ تېره کړي، چې له امله به يې ايران د افغانستان له لارې له چين سره ونښلي.

سره له دې چې د ايراني چارواکي خبرې تر اوسه د کاغذ پرمخ او د بحثونو تر کچې دي، خو که چېرته دغه نقشه راتلونکې کې عملي شي، نو د سيمې، بيا په ځانګړې ډول د افغانستان، ايران او چين ترمنځ به سوداګريزو اړيکو کې ډېر نږدېوالی راولي. اوس مهال د ايران او چين ترمنځ سوداګري د اوبو له لارې کېږي، چې له ستونزو خالي نه ده، وخت نيسي او فاصله هم ډېره ده. دواړه د سوداګرۍ مهم شريکان دي. سره له دې چې دواړه له يو بل سره غير تېلي سوداګري هم لري، خو د چين له لوري د ايران د تېلو واردات هغه څه دي چې دواړه هېوادونه يې سره نږدې کړي او چين چې د نړۍ لوی توليدوونکی هېواد دی او د امريکا د بنديزونو له امله چين د ايران د تېلو تر ټولو لوی پېرودونکی دی. سره له دې چې امريکا په ايران بنديزونه لګولي دي، خو چين بيا هم له ايران سره سوداګري کوي او د امريکا بنديزونه يو اړخيز ګڼي.

امريکا د ايران د تېلي صادراتو پر ضد سخت ګامونه اخيستي دي، ايران د وچې له لارې د خپلو صادراتو د زياتوالي له پاره په وروستيو کې له ترکمنستان، تاجکستان او ازبکستان سره د اړيکو د پراختيا له پاره هڅې کړې دي. دغه راز، له افغانستان سره يې هم سوداګرۍ پراختيا موندلې ده. داسې ښکاري چې ايران اوس د افغانستان له لارې د يوې بلې لارې د جوړولو فکر لري، څو له خپل لوی سوداګريز شريک (چين) سره د سوداګرۍ له پاره ورته تر ټولو لنډه لار وي.

ايران اوسمهال د هرات-خواف ريل پټلۍ له لارې له افغانستان سره نښتی دی، چې ټول اوږدوالی يې ۲۲۵ کيلومتره دی. د نوي پلان له مخې به ايران همدې ريل پټلۍ ته پراختيا ورکوي. د ايراني چارواکي له خبرو ثابتېږي چې افغانستان د سيمې د مختلفو هېوادونو ترمنځ اوس هم د يوه پُل په توګه د نښلوونکي حيثيت لري او کولی شي چې د سيمې په اقتصادي وده او نښلون کې مهم رول ولوبوي.

### د افغانستان د جغرافيوي موقعيت ارزښت بيا څرګندېږي

افغانستان د منځنۍ اسيا، سويلي اسيا او ايران ترمنځ په يوه داسې موقعيت کې پروت دی، چې په دغه سيمه کې پراته هېوادونه يې د خپلې سوداګرۍ او ترانزيټ له پاره له پامه نه شي غورځولی. اوسمهال د افغانستان له خاورې د سيمه ييز اتصال ګڼې پروژې تر کار لاندې دي. د تاپي (د افغانستان له لارې سويلي اسيا ته د ترکمنستان د ګازو د لېږد پروژه)، د کاسا زر (د افغانستان له لارې سويلي اسيا ته د منځنۍ اسيا د برېښنا د لېږد پروژه)، د افغان-ټرانس په اړه جدي بحثونه او ځينې نورې پروژې، چې افغانستان په کې مرکزي رول لري، د سيمې په اقتصادي نښلون کې د افغانستان مرکزي رول ښه څرګندوي.

افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د سيمه ييز اتصال مرکزي لوبغاړی پاتې شوی. يو مهال يې د ورېښمو تاريخي لارې په واسطه د اسيا او اروپا ترمنځ سوداګريزو او کلتوري اړيکو ټينګولو کې مهم رول لوباوه.

له لسيزو بې ثباتۍ وروسته، چې د افغانستان د ناامنۍ له امله د سيمې ځينې هېوادونه ناامنه او وېرې او ګواښونه موجود و، د اسلامي امارت بياځلي واک ته په رسېدو سره اوس هغه وضعيت بدلون کړی او ښکاري چې افغانستان يو ځل بيا د سيمې د توجه وړ ګرځېدلی او غواړي د افغانستان له ستراتېژيک موقعيته استفاده وکړي.

ايران، چې د افغانستان مهم ګاونډی دی، له چين سره د دغې نوې نښلوونکې لارې له طريقه يې د نښلېدو چانس ډېر دی او که ايران په دې اړه له افغانستان او چين سره جدي بحثونه وکړي، نو مثبتې پايلې لرلی شي.

د ايران او چين له پاره د دې نوې لارې ګټې تر ډېره څرګندې دي، خو د جګړه ځپلي او کمزوري اقتصاد او تر ځمکې لاندې د نااستخراج شوې شتمنۍ درلودونکي هېواد افغانستان له پاره



کومې گټــې لرلی شي؟ له دې پروژې یــوه مهمه گټه چې افغانستان یې له عملي کېدو وروسته ترلاسه کولی شي، هغه ترانزیټي عواید دي چې د افغانســتان ملي خزانې ته به جمع کېږي او بیا به په نورو پراختیایي کارونو مصرفېږي. بله مهمه گټه یې په افغانســتان کې د گڼو کاري فرصتونو ایجاد دی. دغه ریل پټلۍ سره به په افغانســتان کې ډېرو افغانانو ته په مختلفو برخو کې کاري فرصتونه ایجاد شي، چې د عامو وگړو ژوند کې به لوی بدلون راولي او دســترخوان به یې ډک شي. یوه بله مهمه گټه یې له چین سره د افغانســتان مســتقیم نښــلېدل دي. اوس د افغانستان او چین ترمنځ سوداگري د پاکســتان له لارې کېږي، چې له ستونزو او خنډونو خالي نه ده. بله لاره د منځنۍ اسیا لار ده چې وخت نیسي او فاصله ډېــره ده، خو کــه چېرته دغــه نوې پروژه عمــلي شي، نو افغانستان به په مستقیم ډول له چین سره ونښلي او د وارداتو لگښتونه او وخت به بې حده راکم شي، چې دا به د افغانستان په بازار کــې د چینایي او ایراني توکــو د بیو د ټیټېدو لامل وگرځي. دغه راز، چین چې د خپلو تولیداتو له پاره خامو موادو ته اړتیا لري. وروستیو کلونو کې یې په افغانستان کې پانگونه کړې او په همدې موخه یې له افغان حکومت سره بنې اړیکې جوړې کړې دي. دغه نوې لاره به په افغانستان کې د چینایانو د پانگونې د زیاتېدو لامل شي. افغانستان د چین له پاره اقتصادي ارزښــت لرونکی او ستراتېژیک هېواد دی. چین د افغانستان په کانونو کې د پانگونې له پاره ډېره لېوالتیا لري او د مس عینک لوی کان ترڅنگ یې په وروستیو کې په مختلفو سکتورونو کې د پانگونې قراردادونه لاسلیک کړي دي. خو د دې نوې پروژې پېل به ساده او اسانه کار نه وي. له چین او افغانستان سره همغږي او یو عملي تړون ته ننوتل او د نقشې جوړول یوه مرحله ده او له هراته تر بدخشانه په شاړو دښتو او غریزه سیمو پوښلي افغانستان کې د ریل پټلۍ غځول به بله سخته مرحله وي. دغه راز، د دې پروژې لگښت به هم دومره زیات وي چې ممکن یو هېواد یــې په غاړه وانخلي، خو که چین د خپلې یو کمر بند یوې لارې سره دغه پروژه همغږې کړي، نو پلي کېدل یې ممکن ډېر سخت نه شي. د پایلې په ډول که ووایو، د ایران له لوري د دې نوې پروژې په اړه خبرې د ایران-افغانســتان او چیــن ترمنځ د نښــلون یو مهم باب پرانېزي. که چېرې دغه پروژه د افغانستان په مرکزیت عملي کېږي، نو گټې به یې د افغانستان له پاره ډېرې وي. اسلامي امــارت ته په کار ده چې له ایــران سره دغه موضوع تعقیب کړي، ځکه دا پروژه د افغانســتان خلکــو ته لوی اقتصادي فرصتونه برابروي. سره له دې چې لکه د هرې بلې پروژې په مخ کې چې ســتونزې او ننگونې وي، دا پروژه هم استثنی نه ده، خو دا د دربېواړو هېوادونو له پاره په سوداگرۍ او ترانزیټ برخه کې نوي او مثبت فرصتونه لري.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۶۶,۰۵؋ | ۶۶,۱۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۲۶؋ | ۲۲۶؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰,۴۷؋ | ۰,۴۸؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۷,۵۲؋ | ۷۷,۵۷؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۴؋ | ۰,۸۴؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷۳۵؋ | ۷۳۵؋ |
| ۱ | انگلیسي پوند | ۸۸,۸۹؋ | ۸۸,۹۶؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۷,۶۱؋ | ۱۷,۶۳؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۷,۹۹؋ | ۱۸,۰۰؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۴۴؋ | ۹,۴۵؋ |

